NHS

UK Health Security Agency

# د لویانو لپاره د RSV واکسین په اړه ستاسو لارښود

ځنګه کولی شئ د تنفسي ناروغیو د وایروس ضد واکسین (RSV) په تطبیق سره ځان خوندي کړئ



**د وړیا RSV واکسین په اړه معلومات چې د لاندې اشخاصو لپاره یې سپارښتنه کېږي:**

- هغه چې عمر یې د 2024 کال د سپټمبر په 1ۍ نېټه یا له هغې وروسته 75 کاله وي
- هغه چې د 2024 کال د سپټمبر له 1ۍ نېټې مخکې یې عمر له 75 نه تر 79 کلونو پورې وي

## RSV څه شی دی؟

د تنفسي ناروغيو وايروس (RSV) يوه وايروسي ناروغي ده چې سږي او تنفسي سيستم تر اغېز لاندې نيسي. د RSV ناروغي اغلبا د ذکام په شان اعراض او علائم لري، لکه ټوخی، د ستوني درد، پرنجی، د پوزې بندېدل او بهېدل. همدارنګه کولی شي د سينې د سخارې يا ساه لنډی لامل هم شي چې له امله يې د سينه و بغل په شان نور داسې ناوړه حالات رامنځ ته کړي چې ژوند ګواښي. دغه ناروغي کومه ځانګړې درملنه نه لري او ډېری ډولونه يې د وخت په تېرېدو سره پخپله له منځه ځي. هرکال له دغې ناروغۍ يعنې RSV څخه په زرګونو لويان د مراقبت په موخه په روغتونونو کې بستر کېږي، او ځينې يې مري. RSV ناروغي کېدی شي د ډېری هغو کسانو لپاره خورا جدي وي چې د زړه او سږو د ناروغيو او يا هم کمزوري دفاعي سيستم په شان ناوړه روغتيايي حالت لري.

RSV ناروغي په تنکيو ځوانانو کې ډېره عامه ده خو د کوچنيو ماشومانو او د لوړ عمر درلودونکو اشخاصو لپاره نوره هم خطرناکه ده.



## يو شخص څنګه په RSV اخته کېږي؟

RSV ناروغي کېدی شي د کال په هر موسم کې شيوع وکړي خو اوج يا شدت يې هرکال په ژمي کې وي.

RSV کولی شي د ټوخي او پرنجي له لارې انتقال شي. تاسو کولی شئ د ټوخي او پرنجي پرمهال (د يوه دستمال يا بل څيز په واسطه) د خولې او پوزې په پټولو سره د يادې ناروغۍ له انتقال څخه مخنيوی وکړئ، همدارنګه کولی شئ په مکرر ډول د خپلو لاسونو په مينځلو سره د دغې ناروغۍ د شيوع يا خپرېدو د ګواښ کچه راټيټه کړئ. خو حتی د يادو تدابيرو د نيولو سربېره د RSV مخنيوی کېدی شي ستونزمن وي.

له دغې ناروغۍ څخه د ځان ساتلو ترټولو غوره لار د واکسينو کړل دي.

## واکسين په بدن کې څنګه فعاليت کوي؟

تقريبا ټولو لويانو به په خپل ژوند کې څو ځله د RSV تنفسي ناروغي تجربه کړې وي. کله چې تاسو د RSV ناورغۍ د لوړې کچې خطر لرونکو اشخاصو په ګروپ کې راځئ، نو د يادو واکسينو د يو دوز تطبيق به تاسو سره مرسته وکړي چې د خپل بدن د مصؤنيت کچه لوړه کړئ.

## آيا د RSV واکسينو د تطبيق لپاره نور په شرائطو برابر کسان هم شته؟

مېندواره مېرمنې هم کولی شي دغه واکسين وکړي ترڅو وکولی شي د RSV ناروغۍ پروړاندې خپل ماشوم خوندي کړي. تاسو کولی شئ د مېندواره ښځو لپاره د RSV واکسينو په اړه لارښود دلته مطالعه کړئ:

**www.gov.uk/government/publications/respiratory-syncytial-virus-rsv-maternal-vaccination**

A guide to the RSV vaccine for older adults leaflet V2 - Pashto.indd 2 17/02/2025 18:30:24

## آيا اړتيا شته چې هرکال دغه واکسين وکړم؟

نه، يوازې يو دوز ښائي تاسو ته د څو کلونو لپاره مصؤنيت رامنځ ته کړي.



## کوم کسان کولی شي د RSV واکسين وکړي؟

هر هغه شخص چې د 2024 کال د سپټمبر په 1ۍ نېټه يا له هغې وروسته يې عمر د 75 کالو وي، کولی شي د RSV واکسينو يو دوز ترلاسه کړي. دا ځکه چې لويانو ته د RSV واکسينو د عوارضو له امله رامنځ ته شوی ګواښ تر نورو ډېر دی. تاسو کولی شئ 80 کلنۍ ته له رسېدو يوه ورځ مخکې هم دغه واکسين ترلاسه کړئ.

د پروګرام په لومړي کال به واکسين هغه اشخاصو ته هم وړاندې کېږي چې د 2024 کال د سپټمبر په 1ۍ نېټه يې عمرونه له 75 څخه تر 79 کلونو پورې وي.

## آيا هغه کسان چې عمرونه يې تر 75 کلونو ټيټ دي، کولی شي دغه واکسين وکړي؟

موسنو يا د لوړ عمر لرونکو اشخاصو ته به هغه مهال د ياد واکسين د تطبيق سپارښتنه کېږي کله چې 75 کلنۍ ته رسي.

## آيا کولی شم د خپلو COVID-19 يا والګي د واکسينو سره په يو وخت د RSV واکسين وکړم؟

RSV واکسين معمولا د COVID-19 يا والګي د واکسينو سره په يوه وخت کې نه ورکول کېږي.

په ځانګړو روغتيايي حالاتو کې ستاسو ډاکټر يا نرس کولی شي په يوه وخت کې د دواړو واکسينونو د تطبيق سپارښتنه وکړي

## آيا کولی شم RSV واکسين د شېنګل او pneumococcal واکسينو سره په يوه وخت کې وکړم؟

هو، تاسو کولی شئ دغه واکسينونه په يوه وخت کې وکړئ.

## آيا داسې کوم کس هم شته چې نه شي کولی دغه واکسين تطبيق کړي؟

تقريبا هرڅوک کولی شي دغه واکسين وکړي، خو که چېرې مو کوم وخت د واکسينو يا د هغې د کوم ترکيب سره جدي حساسيت کړی وي په دې اړه د خپل ډکټر سره مشوره وکړئ.

که چېرې تاسو د واکسينو د تطبيق پرمهال د ذکام په شان کومه خفيفه ناروغي لرئ بيا هم کولی شئ واکسين وکړئ، خو که چېرې مو حالت ډېر خراب وي يا تبه لرئ، په دې صورت کې ډاکټر يا نرس کولی شي تاسو ته سپارښتنه وکړي چې تر ښېرته رغېدو پورې صبر وکړئ.

## آیا واکسین به ما په بشپړ ډول خوندي کړي؟

واکسینو دا ثابته کړې ده چې له RSV ناروغۍ څخه د رنځ وړلو احتمال را کموي. لکه د نورو ټولو درملو په شان، هېڅ ډول واکسین په بشپړ ډول اغېزمن نه دی، او کېدی شي ځینې خلک د واکسینو د تطبیق سربېره په RSV اخته شي. خو که چېرې مو واکسین کړي، نو کېدی شي RSV ناروغي یو څه اسانه تېره شي.

## د واکسینو له ترلاسه کولو وروسته به د څومره وخت لپاره مصؤن یا خوندي وم؟

کلینیکي څېړنو ښودلې ده چې RSV واکسین لږترلږه د 2 کلونو لپاره غوره مصؤنیت رامنځ ته کوي، چې شاني دغه موده تر دې هم ډېره وي.

## آیا د واکسینو تطبیق جانبي عوارض لري؟

کېدی شي د واکسینو له تطبیق وروسته د تزریق په ساحه کې د یوې یا دوو ورځو لپاره یو څه درد، سوروالی یا پړسوب ولرئ.

د امریکا په متحده ایالاتو کې د دغه واکسین 12 ملیونه دوزه په لومړۍ مرحله کې خلکو ته تطبیق شول. د دغو کسانو له ډلې په ندرت سره یعنې په هرو یو ملیون اشخاصو کې شاوخوا 10 کسه داسې وو چې د عصباني کېدو د پېښو سره چې د Guillain-Barré سېنډروم په نامه یادېږي او له امله یې شخص د کمزورۍ احساس کوي مخ شول. دغه راز له یو لړ عامه ناروغیو او ځینو واکسینو له تطبیق وروسته هم ورته شرائط رامنځ ته کېږي، خو په ټوله کې تاسو کولی شئ واکسین وکړئ، ځکه دغه احتمالي ګواښ کېدی شي تر هغه کم وي چې د RSV ناروغۍ له امله تاسو ورسره مخ کېږئ.

## اوس زه باید څه وکړم؟

کله چې 75 کلنۍ ته رسئ، ستاسو GP یا عمومي ډاکټر به تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو د RSV واکسینو د تطبیق لپاره تاسو ته نوبت ونیسي.

که چېرې ستاسو عمر له 75 څخه تر 79 کلونو پورې وي او لا مو د واکسینو د تطبیق لپاره بلنه نه وي ترلاسه کړېږي، نو د خپل GP ډاکټر سره په اړیکه کې شئ ترڅو ستاسو لپاره د RSV د تطبیق په موخه تاسو ته نوبت ونیسي.

## له کومه ځایه کولی شم په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړم؟

تاسو کولی شئ د RSV واکسینو د لارښود په اړه چې د Abrysvo په نامه یادېږي، نور معلومات دلته ولولئ:

**www.medicines.org.uk/emc/product/15309/pil**

که چېرې په دې اړه اضافي پوښتنې لرئ، د خپل نرس، GP یا روغتیایي ټیم سره خبرې وکړئ.

تاسو کولی شئ د مبهمو جانبي عوارضو په اړه د Yellow Card په ویب پاڼه کې راپور ثبت کړئ، یا هم د Yellow Card اپلکشن په ښکته کولو سره (له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9am بجو د مازدیګر تر 5pm پورې) د 0800 731 6789 وړیا شمېرې له لارې په دې اړه خپل راپور ثبت کړئ.

**www.mhra.gov.uk/yellowcard**

© Crown copyright 2025. Version 4. UK Health Security Agency Gateway Number 2024967. Product code: V2C24RSV01PAS Pashto. 2P 130K FEB 2025 (APS). To order more copies of this asset, please visit: www.healthpublications.gov.uk or call 0300 123 1002. This leaflet is available as a BSL video, and audio file, in braille, large print and translated into 30 community languages.